

ابادي اوونيزه
هفته نامه آبادی

**ABAADI ONLINE WEEKLY**

د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو په برخه کې
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

گڼه: ۲۹ | مسلسل نمبر: ۷۱ | شنبه، د ربيع الثاني ۳۰ مه، ۱۴۴۶ هـ. ق کال

## په جوزجان ولايت کې د سيمنټو توليدي فابريکې د جوړولو تړون لاسليک شو


۲ صفحه

## اسلامي امارت په ۱۴۰۲ لمريز کال کې د هېواد په کچه د ۳۵۵ چکډېمونو پروژې پيل چې ډېرى يې بشپړې او ګټې اخيستنې ته سپارل شوې دي


۲ مه صفحه

## د لبنياتو سکتور د ځان بسياينې پاليسی، د منرالونو د ملي پاليسی مسودې او په نباتي غوړيو کې د ځان بسياينې طرحې ته د تاييد نظر ورکړل شو


۳ مه صفحه




د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په حضور کې د روان ۱۴۰۳ لمريز کال د عقرب مياشتې په اتمه نېټه د جوزجان ولايت په يتيم تاق سيمه کې د کانونو او پټروليم وزارت او ۷۷ ترکي شرکت ترمنځ د سيمنټو توليدي فابريکې د جوړولو تړون لاسليک شو. د دغه تړون له مخې به قراردادي شرکت د يادې فابريکې د جوړولو په برخه کې ۱۱ميلياړده افغانۍ پانګونه کوي او په ورځني ډول به د ۳۰۰۰ ټنو سيمنټو د توليد وړتيا ولري.

افغانستان يو له هغو هېوادونو څخه دی چې په زياته اندازه د سيمنټو د توليد له پاره معدني مواد لري. ددې معدني توکو زيرمې د هېواد په بېلا بيلو ولايتونو کې شته دي. خو افغانستان لا هم د خپلې اړتيا وړ زياته اندازه سيمنټ د سيمې او ګاونډيو هېوادونو څخه واردوي. کوم سيمنټ چې له ګاونډيو هېوادونو څخه واردېږي، په کال کې په ميليونونو ډالر ګاونډيو هېوادونو ته د داسې جنس په بدل کې ورکول کېږي چې په هېواد کې يې د توليد امکانات زيات دي. د سيمنټو ارزښت او په افغانستان کې د دې مهمې مادې د توليد له پاره د معدني موادو شتون ته په کتو اسلامي امارت هڅه کوي چې په دې برخه کې هېواد پر ځان بسيا کړي. په همدې موخه يې په هېواد کې د سيمنټو فابريکو بيارغونې او د نويو فابريکو جوړولو ته مخه کړې ده.

په همدې موخه يې تر دې مهاله د هېواد د بغلان د غوري او پروان د جبل السراج د سيمنټو دوې سترې توليدي فابريکې فعالې کړې دي. د کندهار د شوراندام او د هرات د سيمنټو فابريکو جوړولو چارې روانې دي. د غوري سيمنټو فابريکې توليد په ۲۴ ساعتونو کې ۶۰۰ ټنو ته رسېږي. د دې فابريکې مسوولينو ويلي، هڅه کوي دغه کچه په ۲۴ ساعتونو کې ۱۴۰۰ ټنو ته لوړه کړي. دې کچې ته په رسېدو به د سيمنټو له پلوه د هېواد ۱۴ سلنه اړتيا پوره شي. د دې ترڅنګ د پروان ولايت د جبل السراج د سيمنټو توليدي فابريکه له ۲۰ کلن ځنډ وروسته بېرته فعاله شوه. د سيمنټو دا توليدي فابريکه اوسمهال په ۲۴ ساعتونو کې ۱۰۰ ټنه سيمنټ توليدوي. د ۲۰۲۳ ميلادي کال د اکتوبر په ۱۲مه نېټه د ۲۲۰ ميليون ډالرو په پانګونې سره د قطر او افغاني شرکت سره د جبل السراج د سيمنټو فابريکې قرارداد لاسليک شو. د دې قرارداد له مخې به د جبل السراج د سيمنټو فابريکه په کلني ډول د يو نيم ميليونه ټنه سمنټو د توليد ظرفيت پيدا کړي.

په افغانستان کې د سيمنټو فابريکو په فعالېدو سره به له يوه لوري افغانستان نور د سيمنټو واردولو ته اړتيا پيدا نه کړي، له بل لوري به پانګونې ته زمينه برابره، زرګونو کسان به په دندو وګومارل شي او اقتصاد به مو پرمختګ وکړي.

# په جوزجان ولایت کې د سیمنټو تولیدي فابریکې د جوړولو تړون لاسلیک شو



د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په حضور کې د روان ۱۴۰۳ لمریز کال د عقرب میاشتې په اتمه نېټه د جوزجان ولایت په یتیم تاق سیمه کې د کانونو او پټرولیم وزارت او ۷۷ ترکي شرکت ترمنځ د سیمنټو لویې تولیدي فابریکې د جوړولو تړون لاسلیک شو. د دغه تړون له مخې به قراردادي شرکت د یادې فابریکې د جوړولو په برخه کې ۱۶۳ میلیون ډالره پانګونه کوي او په ورځني ډول به د ۳۰۰۰ ټنو سیمنټو د تولید وړتیا ولري. د کانونو او پټرولیم وزارت مسوولین وايي، دا تړون چې له مخې به يې یاد ترکي شرکت د سیمنټو د اکتشاف، استخراج، تولید او ټولنیزو خدماتو په برخو کې پانګونه کوي، د ۳۰ کلونو له پاره په پام کې نیول شوی دی.

د سیمنټو د دغه تولیدي فابریکې په جوړېدو سره به شاوخوا ۱۲۰۰ هېوادوالو ته په مستقیم ډول د کار زمینه برابره شي.

د یادونې وړ ده چې د کانونو او پټرولیم وزارت د سمنټو په برخه کې د هېواد ځان بسیاینې په موخه له دې پروژې وړاندې د شاوخوا ۴۷۶ میلیون ډالرو په ارزښت د جبل السراج، کندهار او هرات سمنټو پروژو قراردادونه له یو شمېر کورنیو او بهرنیو شرکتونو سره لاسلیک کړي دي.






## د لبنیاتو سکټور د ځان بسیاینې پالیسۍ، د منرالونو د ملي پالیسۍ مسودې او په نباتي غوړیو کې د ځان بسیاینې طرحې ته د تایید نظر ورکړل شو



د اقتصادي کمېسیون د تخنیکي کمېټې نوبتي غونډه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره او له اجنډا سره سم د لبنیاتو سکټور د ځان بسیاینې پر پالیسۍ، د منرالونو د ملي پالیسۍ پر مسودې او په نباتي غوړیو کې د ځان بسیاینې پر طرحې او همدا راز یوشمېر نورو موضوعاتو بحث وشو. په غونډه کې تر هر اړخیز بحث وروسته یادو موضوعاتو ته د تایید نظر ورکړل شو او د منظورۍ په موخه اقتصادي کمېسیون ته راجع شول.

د لبنیاتو د ځان بسیاینې پالیسۍ په تطبیق سره به په هېواد کې د اړتیا وړ باکیفیته او صحي لبنیات راتول، پروسس او له معیاري بسته‌بندۍ وروسته به بازار ته وړاندې کېږي، چې په دې سره به دغه سکټور د پام وړ وده وکړي. همدا راز به د نباتي غوړیو په برخه کې د ځان بسیاینې طرحې په تطبیق سره په کور دننه باکیفیته او صحي نباتي غوړ تولید او د ورځني بازار اړتیا به تر ډېره له کورنیو سرچینو پوره شي. همدارنګه به د منرالونو د ملي پالیسۍ په تطبیق سره په دغه برخه کې مؤثر ګامونه واخیستل شي.



## در سال جاری خورشیدی، به ارزش ده‌ها میلیارد افغانی پروژه‌های بزرگ در سکتور ترانسپورت آغاز شده است

امارت اسلامی افغانستان سکتور ترانسپورت را یکی از اولویت های خود قرار داده است.ارائه خدمات ترانسپورتی مصؤن و معیاری، تقویت روابط ترانسپورتی با کشورهای همسایه و منطقه، زمینه سازی برای سرمایه گذاری در بخش ترانسپورت، توسعه زیربناهای ترانسپورتی، اصلاح ساختار اداری و فراهم ساختن زمینه اصلاحات اساسی در این بخش در صدر کارهای شان قرار دارند.

طی سال جاری خورشیدی پروژه های عمده اقتصادی در بخش ترانسپورت راه اندازی شده است که مهم آن، سرک هرات ـ غور، لین دوم سرک کابل ـ غزنی، لین دوم سرک کابل ـ جلال آباد، قسمت اول سرک از چهارراهی شهید الی قصبه شهر کابل، سرک چهارراهی میدان هوایی کابل الی گمرک، لات دوم سرک کوتل خیرخانه کابل ، سرک های برخی ولایات دیگر ، احداث سرک ها از مراکز ولایات به ولسوالی های دور دست و کار اتصال کشور با کشور های همسایه و منطقه از طریق راه آهن نیز به سرعت ادامه دارد.

یکی از این پروژه ها بخش دوم قطعه چهارم خط آهن خواف – هرات است که با تطبیق آن، تجارت با کشورهای منطقه توسعه خواهد یافت. با آغاز این پروژه ها زمینه کار برای هزاران تن فراهم شده و با تکمیل آن تسهیلات زیادی در عرصه ترانسپورت ایجاد خواهد شد.




# بانکي سکتور ، د هېواد په اقتصادي وده کې د يو بنسټيز سکتور په توګه پرېکنده رول لري او پر مټ يې دا برخه پراختيا موندلی شي




د دې لید پر بنسټ، د افغانستان اسلامي امارت بانکي سکتور په خپلو لومړیتونو کې نیولی دی. اغېزناک، خوندي او معیاري بانکي خدمتونو وړاندې کول، د ګاونډیو او سیمې هېوادونو سره د بانکي اړیکو پیاوړتیا، د شفاف او حساب ورکوونکو سیستمونو رامنځته کول، خصوصي پانګه اچونې او په دې سکتور کې بنسټیزو اصلاحاتو ته زمینه برابرول یې د کارونو په سر کې ځای لري.

د هېواد لرې پرتو سیمو ته د بانکي خدمتونو رسول، د بانکي سکتور په کړنو کې ښه والی، په ټول هېواد کې په افغانیو راکړه ورکړه او په راکړه ورکړه کې د بهرنیو اسعارو نه کارېدل، د بهرنیو اسعارو پر وړاندې د افغانیو ارزښت لوړېدل، د افغاني بانکنوټونو چاپول، بازار ته یې وړاندې کول او په بدل کې یې له بازار څخه د مندرس بانکنوټونو راټولول او سوځول، د اسلامي بانکوالۍ دودول، د پخوانیو تضمیناتو، طلباتو او تامیناتو ورکړه، د ادراینو او معلوماتي ټکنالوژۍ د سیستمونو پراختیا، انفلاسیون مطلوبې کچې تـه راټیټول، د مشـتریانو پـر امانتونو د محدودیتونو تدریجي کمېدل، پـه خصوصي بانکونو کې د نغدینګۍ سـتونزې حـل، مالي قضیو ته پـه محاکمو کې لومړیتوب ورکول او د بانکونو له لارې د عوایدو راټولول هغه ګامونه دي چې د بانکي سـکتور د تقویې په موخه اخیستل شوي دي.

هغه عوامل چې د افغانۍ د ارزښت ساتنې او لوړېدو په برخه کې یې مرسته کړې ده، د افغانستان بانک له لورې د معقولو پولي سیاستونو تطبیق، بهرنیو هېوادونو ته د اسعارو د قاچاق مخنیـوی، صادراتي ودې، په دولتـي کچه د غیر ضروري لګښـتونو مخنیوی، په هېواد کې د ملي او سیمه‌ییزو پروژو پیل او د نړۍ له هېوادونو سره له سوداګریزې پراختیا څخه عبارت دي.



# د یتیم تاق سیمنټو فابریکې اقتصـادي ارزښت ته ځغلنـده کتنه

**لیکوال:** فضل ولي شیراني

## سریزه

د هېوادونو د زېربنايي ودانیو د ودانیزو توکو یوه مهمه ماده سیمنټ دي چې په ساده ټکنالوژۍ سره په صنعتي ډول له خامو معدني مـوادو څخه تولیدېږي. سـیمنټ د پلونو، پلچکونو، صنعتي، خدماتي، ملکـي او نظامي ودانیو، د اوبو او برېښـنا د بندونو او د اوبو رسـولو شبکو کې کارول کېـږي. په یوه هېـواد کې په مناسـبه بیه د سـیمنټو موجودیت د دغو سـاختمانونو د جوړولو په بیه او په ټوله کې د هېواد پر اقتصادي ودې ژوره اغېزه لري. په ۲۰۱٦ میـلادي کال کې په ټولـه نړۍ کې څه د پاسـه څلور میلیارده ټنه سیمنټ تولید شوي و چې له جملې یې ۲,۳۵ میلیـارده ټنـه یـوازې چیـن،۲۹۰ میلیونـه ټنـه هندوستان،۸۵,۹ میلیونه ټنه امریکا،۷۷ میلیونه ټنه ترکیې او پاتـې یې نورو هېوادونو تولید کړي وو. په همدغه کال کې زمـوږ ګاونډیو هېوادونـو ایران ۵۳ میلیونـه ټنه او پاکسـتان ۳۲ میلیونه ټنه سمنټ تولید کړي و. دغه دواړه هېوادونه د سمنټو له پلوه نه یوازې پرځان بسیا دي، بلکې د پلورلو له پاره هم سمنټ لري چې د مهمو مارکیټونو څخه یې یو هم افغانستان دی. افغانستان د سمنټو کلنۍ اړتیا له ۵- ۷ میلیون ټنو پورې ده که چېرې دغه اندازه سیمنټ له ګاونډیـو هېوادونو څخه وارد کړو، نـو په کال کې په سلګونو میلیونو ډالر ګاونډیو هېوادونو ته د داسې جنس په بـدل کې ورکوو چې په هېواد کې یې د تولید له پاره اړین معدني مواد موجود دي. د سیمنټو ارزښت او په افغانستان کـې د دې مهمې مادې د تولید له پـاره د معدني موادو شتون ته په کتو اسـلامي امارت هڅه کوي چې په دې برخه کې هېواد پر ځان بسیا کړي. په همدې موخه یې په هېواد کې د سـیمنټو فابریکو بیارغونې او د نویو فابریکو جوړولو ته مخه کړې ده. دا چې اسـلامي امارت په دې برخه کې څه کړي دي، لاندې یې لولو.

## اسلامي امارت او د سیمنټو د تولیدي فابریکو د فعالېدو په برخه کې هڅې

د افغانستان اسلامي امارت له بیا ځلې واکمنېدو سره، له هر څه وړاندې د افغانستان د اقتصاد د پیاوړتیا لپاره خپلې هلې ځلې چټکې کړې دي او په دې برخه کې له ټولو هغو لارو چارو ګټه پورته کوي چې د افغانستان اقتصاد ورسره پیـاوړی کېدای شي. یـوه په‌کې د هېـواد د زیربناوو د بیارغونې او جوړونې له پاره د اړتیا وړ سیمنټ برابرول دي. اوسـمهال په هېواد کې په کمه اندازه د اړتیا وړ سیمنټ تولیدېږي او پاتې نور له ګاونډیو هېوادونو واردېږي. له دې درکه افغانسـتان هر کال میلیونونه ډالر ګاونډیو هېوادونو ته ورکوي. اسـلامي امارت غواړي په هېواد کې د ننه د سمنټو د تولید کچه لوړه او د خپلې اړتیا وړ سیمنټ په کور دننه تولید او په ودانیزو چارو کې ترې ګټه پورته کړي. په همدې موخه یې تر دې مهاله د هېواد د بغلان د غوري او پـروان د جبل السراج د سـیمنټو دوې سـترې تولیدي فابریکې فعالې کړې دي. د کندهار د شوراندام او د هرات د سـیمنټو فابریکـو جوړولو چارې روانــې دي. د غوري سـیمنټو فابریکې تولید په ۲۴ سـاعتونو کې ٦۰۰ ټنو ته رسـېږي. د دې فابریکې مسوولینو ویلي، هڅه کوي دغه کچه په ۲۴ سـاعتونو کې ۱۴۰۰ ټنو تـه لوړه کړي. دې کچې ته په رسـېدو به د سیمنټو له پلوه د هېواد ۱۴ سلنه اړتیا پوره شي. د دې ترڅنګ د پروان ولایت د جبل السراج د سیمنټو تولیدي فابریکه له ۲۰ کلن ځنډ وروسته بېرته فعاله شــوه. دغه کارخونه چې د جګړو پرمهال ورانه شوې وه، د ۷۰ مېلیونو افغانیو په لګښت بېرته ورغول شوه او پر فعالیت یې پیل وکړ. د سـیمنټو دا تولیدي فابریکه اوسمهال په ۲۴ ساعتونو کې ۱۰۰ ټنه سیمنټ تولیدوي. په ۱۴۰۲ لمریز کال کــې د ۲۲۰ میلیون ډالرو په پانګونې سره د قطر او افغاني شرکت سره د جبل السراج د سیمنټو فابریکې قرارداد لاسلیک شو. د دې قرارداد له مخې به د جبل السراج د سـیمنټو فابریکه په کلنـي ډول د یو نیم میلیونه ټنه سـیمنټو د تولید ظرفیت پیدا کړي. اسـلامي امارت پر دې بسنه نه ده کړې او د ۱۴۰۳ کال د عقرب په اتمه نېټه د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغنـي برادر اخوند په حضور کــې د کانونو او پټرولیم وزارت او د ۷۷ ترکي شرکت ترمنځ د شـاوخوا ۱۱ میلیارده افغانیـو په پانګونې سره د جوزجـان ولایت د یتیم تاق د سـیمنټو تولیدي فابریکې د جوړولو تړون لاسـلیک شو. اسـلامي امارت غواړي د یادو فابریکو پـر مټ هېواد د سـیمنټو په برخه کې خودکفایۍ ته ورسوي. سیمنټ چې څومره د ودانیزو چارو له پاره اړین دي، که چېرې په کافي انـدازه تولید شي، نو د هېواد پـه اقتصادي وده کې هم رغنده رول لري.

## د یتیم تاق سیمنټو پروژې اقتصادي ارزښت

اوس د علم او ټکنالوژۍ عصر دی. هر څوک کولای شي د پیسـو په بدل کې د نړۍ د تر ټولې معتبرې ټکنالوژۍ څخه ګټه پورته کړي. د نړۍ دوهم لوی اقتصادي هېواد چین په فزیکي لحاظ  زمونږ په ګاونډ کې دی. دغه هېواد په یوازې سر د ټولې نړۍ نږدې نیمایي سیمنټ تولیدوي،

په بېلا بېلو ظرفیتونو سره د سـیمنټو د تولیدي فابریکو د ایجاد ترټولو لویې کارخانې  لري. کولای شـو د دوی له تکنالوژۍ څخه په نسـبتاً ارزانه بیه ګټه واخلو. اسلامي امارت په کور د ننه د سیمنټو د تولید امکاناتو ته په کتو په دې برخه کې خپلې هلې ځلې ګړندۍ کړې دي. د غوري او د جبل السراج سیمنټو فابریکو تر فعالیتو وروسته یې د هېواد په کچه په کندهار او هرات ولایتونو کې د سـیمنټو د تولیدي فابریکو د جوړولو چارې پیل کړې دي. اوس یې دادی د یتیم تاق د سـیمنټو فابریکې د جوړولو قرارداد له ترکي شرکت سره وکړ. د یتیم تاق سیمنټو فابریکه چې د شـاوخوا ۱۱ میلیارده افغانیو په پانګونې سره په جوزجان ولایت کې جوړېږي، ورځنۍ تولید به یې ۳۰۰۰ ټنه وي. له دې سره به په هېواد کې د سیمنټو اړتیا تر ډېره بریده پوره شي. دا په خپله د سیمنټو په برخه کې د ځان بسیاینې په لور یو ستر ګام دی. د دې ترڅنګ به د هېواد په اقتصادي وده کې هم مثبـت رول ترسره کړي. د سـیمنټو د یادو فابریکو څخه چې دوې یې فعالې او سـیمنټ تولیدوي، د پاتـې هغو په بشـپړېدو سره به هغـه میلیونونه ډالر چې اوسـمهال د سـیمنټو له درکه ګاونډیو هېوادونو ته ځي، سـپما شي. دغه راز به په کور د ننـه د کورنۍ او بهرنۍ پانګونې له پـاره زمینه برابره او زرګونه کسـانو به په کار بوخت شي.

## پایله


په افغانستان کې  د سیمنټو تولید په نشت حساب دی، نه یوازې داچې د تولیدونکو  په نړیوال لېست کې نه راځي، بلکې د خپلو لګښـتونو کمه سلنه تولیدولی شي. په داسې حال کې چې افغانستان په کلني ډول له ۵ تر ۷ میلیونو ټنو سـیمنټو ته اړتیا لري. پر دې ارقامو سربېره که اسلامي امارت په راتلونکـي کې نورې زېربناوې جوړوي، نو بیا به دغه اړتیا له دې څخه نوره هم لوړه شي. که چېرې بیا هم مـوږ له ګاونډیو او د سـیمې له هېوادونو څخه سـیمنټ واردوو، نو د اوس په پرتله به مو دوه برابره پیسـې بهر ته وځي. اسلامي امارت د سـیمنټو اړتیا او د هغو اقتصادي ارزښـت ته په کتو هڅه پیل کړې چې هېواد په دې برخه کې ځان بسیاینې ته ورسوي. تر دې مهاله اسلامي امارت د سـیمنټو په برخه کې له کورنیو او بهرنیو شرکتونو سره د شاوخوا ۴۳ میلیاردو افغانیو په ارزښت قراردادونه لاسلیک کړي چې وروستی هغه یې د جوزجان د یتیم تاق سیمنټو فابریکې د جوړولو قرارداد دی. له دې سره به له یوه لوري پانګونې ته زمینه برابره شي او له بل لوري به زرګونو کسانو ته د کار زمینه برابره او اقتصاد به مو پرمختګ وکړي.






**In the presence of Deputy Prime Minister for Economic Affairs, Mullah Abdul Ghani Baradar Akhund, on October 29, 2024, a contract was signed between the Ministry of Mines and Petroleum and the Turkish 77 Company for the construction of a cement production factory in the Yatim Taq area of Jowzjan Province, with an investment of approximately 11 billion Afghanis.**

| State Media | The total number of comments in state and private media: 2250 | Private Media |
|---|---|---|
| Comments: 750 | | Comments: 1500 |




## People's comments

"This is a very positive development and will play a significant role in Afghanistan's economic growth. The establishment of a cement factory will not only meet domestic cement needs but also create job opportunities for citizens and strengthen the economy."

"The efforts of the Islamic Emirate are commendable, as we import cement worth millions of dollars annually; this project will help us save significant amounts of money each year."

## Analysis

The Islamic Emirate of Afghanistan is striving to ensure an adequate supply of cement for the reconstruction and development of the country's infrastructure. Currently, a small amount of cement is produced domestically, while the rest is imported from neighboring countries. Afghanistan possesses ample mineral resources for cement production and can not only meet its own needs but also export cement abroad. In light of this, the Islamic Emirate aims to increase domestic cement production to fulfill local demand and utilize it in construction projects. So far, two major cement factories, Ghori in Baghlan and Jabal al-Seraj in Parwan, have been activated, with ongoing construction of cement factories in Shorandam, Kandahar, and in Herat.

Afghanistan's annual cement demand is between 5-7 million tons. If this amount is imported from neighboring countries, millions of dollars leave the country annually in exchange for a product for which the essential mineral resources are available domestically. Given the importance of cement and the mineral availability in Afghanistan, the Islamic Emirate aims to make the country self-sufficient in this area and prevent the outflow of millions of dollars spent on foreign cement. By saving these funds, we can allocate them to other infrastructure projects, accelerating our economic progress.

Note: *The comments above are examples.*

## د بهرنیو اسعارو بیې

د کابـــل په شهزاده ســرای کې د افغانۍ پر وړاندې د بهرنیو اسعارو د نن ورځې بیې



| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ١ | امریکایي ډالر | ٦٨,١٠؋ | ٦٨,١٥؋ |
| ١٠٠٠ | پاکستانی کلداري | ٢٣٦؋ | ٢٣٦؋ |
| ١٠٠٠ | ایراني تومن | ١,٢٣؋ | ١,٢٣؋ |
| ١ | اروپايي یورو | ٧٤,١٦؋ | ٧٤,٢٢؋ |
| ١ | روسی روبل | ٠,٧٠؋ | ٠,٧٠؋ |

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ١٠٠٠ | هندی کلداري | ٨١٠؋ | ٨١٠؋ |
| ١ | انگلیسي پوند | ٨٨,٤٣؋ | ٨٨,٥٠؋ |
| ١ | سعودي ریال | ١٨,١٤؋ | ١٨,١٥؋ |
| ١ | اماراتي درهم | ١٨,٥٤؋ | ١٨,٥٥؋ |
| ١ | چیني ین | ٩,٦٠؋ | ٩,٦٠؋ |